UNITED NATIONS
AFGHANISTAN

**PRESS STATEMENT**

3 December 2024
Press contact: spokesperson-UNAMA@un.org

**د معلولیت لرونکو وګړو د نړیوالي ورځې په اړه بیانیه**

**کابل، د ۲۰۲۴ کال د ډسمبر۳مه -** نن د معلولیت لرونکو وګړو د نړیوالي ورځې په مناسبت، په افغانستان کې ملګري ملتونه په ټوله نړۍ کې له ټولنو سره یوځای د معلولیت لرونکو وګړو انعطاف، لاسته راوړني او مشري نمانځي.

موږ پر حاکمو چارواکو غږ کوو چې له معلولیت لرونکو وګړو څخه ملاتړ وکړي او د افغانستان د دوامدار پرمختګ لپاره د معلولیت لرونکو وګړو ونډه ویپژني.

د معلولیت لرونکو وګړو د نړیوالي ورځې د سږ کال شعار " د ټول شموله او ښې راتلونکي لپاره د معلولیت لرونکو وګړو مشرتابه ته پراختیا ورکړئ " یو مهم حقیقت روښانه کوي: ټول شموله ټولني هغه وخت وده کوي، کله چې معلولیت لرونکي وګړي د تصمیم نیولو، د پالیسی په جوړولو او د ټولني مشرتابه کې مخکښان وي.

په افغانستان کې سره له دې چې د پام وړ ننګوني شتون لري، معلولیت لرونکي کسان موږ د خپل هوډ، د بدلون لپاره د وړتیا، د خپلو حقونو او همدارنګه د ټولو محرومو ډلو د حقونو لپاره له ژمنتیا سره هڅوي. خو لا هم ډیری معلولیت لرونکي وګړي د زده کړې، کار موندني، روغتیایي پاملرني او په عامه ژوند کې د ګډون په برخو کې له خنډونو سره مخ دي.

په ځانګړې توګه ښځې او معلولیت لرونکي نجوني لا ډیرې اغیزمني شوي دي او ډیری وخت له تبعیض او تاوتریخوالی سره مخ دي. څیړني ښيي چې معلولیت لرونکي میرمني او نجوني د نورو په پرتله له زیات کورني تاوتریخوالی، احساساتي ناوړه ګټې اخیستني او جنسي تیري سره مخ دي. دوی ممکن د لا زیات ګوښه پاتې کیدو احساس وکړي او داسي انګیري چې نشي کولی د ناوړه ګټه اخیستني راپور ورکړي، او داسي هم کیدای شي د ناوړه ګټه اخیستونکي د ساتني د له لاسه ورکولو له ویرې راپور ورنه کړای شي.

د داسي حالت د دوام لپاره هیڅ عذر نشته. د معلولیت لرونکو اشخاصو پر دې نړیواله ورځ، موږ د دوی پر مشرتابه او پیاوړتیا ټینګار کوو، چې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي د ۱۶ورځني کمپاین په پراختیا سره د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي ټول ډولونه پای ته ورسیږي.

ملګري ملتونه تاسو ته بلنه درکوي چې سره یوځای په افغانستان کې د معلولیت لرونکو وګړو د مشرۍ، ونډې او ټول شموله راتلونکي جوړولو لپاره خپله ژمنه تازه کړئ، په دې معنی چې:

- د معلولیت لرونکو اشخاصو د حقونو کنوانسیون او د معلولیت لرونکو اشخاصو د حقونو او ګټو قانون (د افغانستان د معلولیت قانون) د بشپړ پلي کولو لپاره دادخواهي وکړئ.
- د معلولیت لرونکو اشخاصو له سازمانونو او د مدني ټولني سازمانونو سره ملګرتیا پیاوړې کړئ ترڅو د دوی غږ واوریدل شي.
- هغه سیستماتیک خنډونه لرې کړئ چې د معلولیت لرونکو اشخاصو، په ځانګړې توګه د ښځو او نجونو د ګډون مخه نیسي
- معلولیت لرونکو وګړو ته د ملګرو ملتونو د ګډون د ستراتیژي مهم رول روښانه کړئ تر څو د ملګرو ملتونو په پروګرامونو او عملیاتو کې د معلولیت لرونکو اشخاصو حقونه، وقار اوګډون خوندي شي.
- د بشري حقونو د کرنلارو پر بنسټ د هیڅ ډول شاته مه پریږدئ، هر اړخیزو پالیسیو ته وده ورکړئ تر څو ټول لومړنیو بشري اړتیاوو ته لاسرسی پیدا کړي.

پر دې نړیواله ورځ، موږ پر حاکمو چارواکو، د بشردوستانه او لومړنیو بشري مرستو برابروونکو، مدني ټولني، او مرستندویه ټولني غږ کوو چې د معلولیت لرونکو اشخاصو د مشرتابه حق وپیژني او ملاتړ یې وکړي. موږ له ټولو ښکیلو اړخونو څخه غوښتنه کوو چې ډاډ ترلاسه کړي، نه یواځې دا چې د دوی غږ اوریدل کیږي بلکه د خبرو اترو، پالیسي جوړولو کې چې د افغانستان راتلونکي جوړوي، ونډه ورکول کیږي.

راځئ چې په ګډه یوه داسې ټولنه جوړه کړو چیرې چې معلولیت لرونکي کسان وکولی شي مشري وکړي او د ټول شموله راتلونکې لپاره لاره هواره کړي.

* * *